**د قلعه او بسطلي د ولسونو استفتاء (د جرګې د پرېکړې شرعي حيثيت**

**د ارشاد، حج او اوقافو محترم وزارت ته**

**د مجمع علمي رياست د پام وړ!**

محترما!

د کونړ ولايت د چپې درې ولسوالۍ د کيرتا ناو په ساحه کې، زمونږ غرونه او مالچرونه دي، چې د مروجه عرف مطابق د سوونو کلونو راپه دېخوا زمونږ تصرف او ذواليدي پکې ده. حاجي جانداد د عبدالمتين زوی چې اصلا د نرنګ ولسوالۍ اوسېدونکی دی، چپې درې ته ډېر وروسته راکډه شوې او د کيرتا په خوله کې يې يوه قطعه زراعتي زمکه زرخريده اخستې ده. د نوموړي زمکې نه پورته د غره د بېخ نه ترسره پورې ټوله ساحه د قلعه او بسطلي د ولسونو له عرف سره سم مالچر او مرعی ده. د نن نه دوه ديرش کاله مخکې حاجي جانداد زمونږ د کليو سره په نوموړې ساحه کې د مالچر پر سر جنجال پيل کړ او په ګڼ تعداد علماوو او سپينږيرو باندې مشتمله يوه جرګه يې راټوله کړه، چې د فريقينو څخه د بشپړ واک اخيستلو نه وروسته يې د ۱۳۶۹ کال د حمل په ۲۷ مه نېټه، د فريقينو ترمنځ صلح آمېزه پرېکړه وکړه او د کيرتا په ساحه کې يې نوموړي ته د قلعه او بسطلي ولسونو سره د مال څرولو اجازه ورکړه، چې د دواړو جانبينو نوموړې پرېکړه ومنله. جرګې د نوموړې پرېکړې څخه د سرغړونې په صورت کې يو ميليون روپۍ د جريمې په توګه وټاکلې.

اوس ستاسو د محترم مقام څخه په احترام د لاندې پوښتنو په هکله د شرعي فتوی غوښتونکي يو:

۱- آيا دغه د علماوو او سپينږيرو اصلاحي فيصله شرعي حيثيت لري او که يا؟

۲- آيا دغه پرېکړه د يو جانب لخوا ماتېدلای شي، هغه هم ۳۱ کاله وروسته؟

۳- په دغه ذکر شوي جانب کې له دريو نفرو څخه يو تن د نوموړې فيصلې د ماتولو حق لري؟

فلهذا د ستاسې محترم مقام څخه په ډېر درنښت هيله کوو، چې د پورتنۍ موضوع په اړه، مونږ ته د اسلامي احکامو مطابق شرعي فتوی راکړئ، مهرباني به مو وي.   والسلام

**د رياست د مقام حکم:** د افتاء آمريت! په دې اړه شرعي نظر وړاندې کړئ.

**د افتاء آمريت ګمارنه:** محترم صديقي صاحب! له خادم صاحب سره په همکارۍ شرعي نظر وړاندې کړئ.

**الجواب باسم مُلهِم الصواب**

**حامدًا لله ومُصلّيًا على رسوله**

محترم مستفتي صاحب!

ستاسو د پورتنيو دريو پوښتنو د ځواب په هکله بايد ووېل شي، چې:

د مالڅر په اړه د علماوو او سپينږيرو د جرګې کومه پرېکړه چې شوې ده، شرعي اعتبار لري او د منازعې يو لورى هم د هغې د ماتولو حق نه لري؛ ځکه يادې جرګې ته د منازعې دواړو لوريو په خپل رضايت واک ورسپارلای او دا رضايت د جرګې د پرېکړې تر اعلانولو وروسته هم دوام موندلای او کومه پرېکړه يې چې کړې، د شريعت له اصولو سره برابره ده؛ ځکه مالڅر له عامه حقوقو څخه شمېرل کيږي، چې په دې سره دا پرېکړه، د قضا د حُکم په څېر، دواړو طرفونو ته مُلزِمه ګرځي.

بناءً، دواړه لوري دې يادې پرېکړې ته ژمن پاتې شي، سرغړونه دې نه کوي؛ څو بيا جنجال او فساد ته لاره هواره نه شي.

البته کومې پيسې چې د جريمې په توګه ټاکل شوې، اخيستل يې د شريعت له مخې جواز نه لري.

**والدليل على ما قلناه:**

۱- قوله تعالى: ﴿**وَإِنْ خِفْتُمْ شِقَاقَ بَيْنِهِمَا فَابْعَثُوا حَكَمًا مِنْ أَهْلِهِ وَحَكَمًا مِنْ أَهْلِهَا إِنْ يُرِيدَا إِصْلَاحًا يُوَفِّقِ اللهُ بَيْنَهُمَا**﴾ [النساء: ۳۵].

۲- إنَّ أبا شريح هانيءﷺ لَمَّا وفَد إلى رسول اللهﷺ مع قومه، سمِعهم يَكْنونه بـ(أبو الحكَم)، فقال له رسول اللهﷺ: {**إنَّ اللهَ هُوَ الْحَكَمُ وَإِلَيْهِ الْحُكْمُ؟ فَلِمَ تُكْنَى أَبَا الْحَكَمِ؟**} فقال أبو شريح: (إنَّ قومي إذا اختلفوا في شَيءٍ أتَوني، فحكَمتُ بينهم، فرضِي كلا الفريقَيْن) فقال رسول اللهﷺ: {**مَا أَحْسَنَ هَذَا!**} (سنن أبي داود، كتاب الأدب، باب في تغيير الاسم القبيح، برقم (٤٩٥٥).

۳- إنَّ النبيَّﷺ قبِل تحكيم سعد بن معاذ فيما بين المسلمين وبني قريظة، وأنه أنفَذ حكمَ سعد، وقال له: {**قَضَيْتَ بِحُكْمِ اللهِ**} (صحيح البخاري، كتاب المغازي، باب مرجع النبيﷺ من الأحزاب، برقم (٤١٢١).

٤- «**إذا حكَّم رجلان رجلًا أو امرأةً، فحكَم بينهما ورضِيا بِحُكْمِه إلى أن حَكَم، جاز؛ لأنَّ لهما ولايةً على أنفسِهما، فَصَحَّ تحكيمُهما**» (شرح فتح القدير ٧/ ٣١٦، دار الفكر - بيروت).

٥- «**يصِحُّ التَّحكيمُ فيما يَمْلِكَان فعلَ ذلك بِأنفسِهما، وهو حُقوقُ العِباد، ولا يصِحُّ فيما لا يَمْلِكَان فعلَ ذلك بِأنْفُسِهما، وهو حُقوقُ اللهِ تعالى**» (الفتاوى الهندية ٣/ ٣٩٧، المكتبة الحقانية).

٦- «لِكُلِّ واحدٍ مِن المُحكِّمِين أن يرجع قبل حُكمِه، فإنْ حكَم لزمهما» (كنز الدقائق ٣/ ٣٩٧، دار البشائر الإسلامية، ط١ (١٤٣٢هـ).

٧- «(لِكُلِّ واحدٍ من المُحكِّمَيْن أن يرجع ما لم يحكُم عليهما)؛ لأنه مقلَّد مِن جهتهما، فلا يحكم إلا برضاهما جميعًا (وإذا حكَم لزِمهما)؛ لِصدور حُكمِه عن ولايةٍ عليهما» (الهداية ٣/ ١٤٣، امير حمزه كتب خانه - كوئٹه).

٨- «لِكُلِّ واحدٍ من المُحكِّمَيْن أن يرجع قبل حُكمِه ... فإن حَكَم لَزِمَهما؛ لأنَّ حُكمَه صدَر عن ولايةٍ شرعيَّةٍ عليهما كالقاضي إذا حكَم لَزِم ... ولأنَّ حُكمَه لا يكون دون صُلحٍ جَرى بينهما بِتراضيهما، وفيه [أي: الصُّلح] لا يكون لِأحدهما أن يرجع عنه بعد تمامِه» (تبيين الحقائق ٤/ ١٩٣، المطبعة الكبرى، طبعة ١ (١٣١٣ هـ) – القاهرة.

٩- «الحُكم مِن الحَكَمَيْن بمنزلة حُكمِ القاضي المقلَّد، إلا أنهما يفترقان في أشياءٍ مخصوصةٍ ... ومنها: أنه [أي: حُكم الحَكَم] ليس بلازمٍ ما لم يتَّصل به الحُكمُ، حتَّى لو رجَع أحد المُتحاكِمَيْن قبل الحُكم، يصِحُّ رُجوعه، وإذا حكَم صار لازمًا» (بدائع الصنائع ٧/ ٣، دار الفكر- بيروت).

١٠- «كما أنَّ حكمَ القُضاةِ لازِمُ الإجراء في حقِ جميعِ الأهالي الذين في داخل قضائهم، كذلك حُكم المُحكَّمَيْن لازِم الإجراء على الوجه المذكور في حقِ مَنْ حَكَّمهم ... فلذلك ليس لأيِ واحدٍ مِن الطَّرفَيْن الامتناعُ عن قبولِ حُكمِ المحكَّمَيْن بعد حُكْمِ المُحكَّمَين حُكمًا مُوافقًا لأصوله المشروعة» (درر الحكام شرح مجلة الأحكام ٤/ ٦٤٥، دار الكتب العلمية - بيروت).

١١- «(لا اعتبار لِمُرور الزَّمن في دعاوى المَحالِّ التي يعود نفعُها للعموم، كالطَّريق العامِّ والنَّهر والمَرعى، مثلا: لو ضَبَطَ أَحدٌ المَرعى المخصوص بِقريةٍ وتصرَّف فيه خمسين سنةً بِلا نِزاعٍ، ثم ادَّعاه أهلُ القرية، تُسمَع دعواهم» (مجلة الأحكام ص ٣٣٧، المادة (١٦٧٥).

١٢- «لأنَّ التَّاركين للدعوى من هؤلاء العامَّة لو أقرُّوا بصريح الإقرار أنَّ الطريق أو النَّهر أو المَرعى هو مِلكُ فلانٍ، لا يكون إقرارهم نافذًا على مَن سواهم من أطفالهم وغيابهم ومَن سيحدث من العامَّة، فكيف يكون مجرَّد تَرْكِهم الدعوى مانعًا من سماع دعوى هؤلاء؟! وهذا لأنَّ حقوق هؤلاء لم تصل إليهم بالإرث عن آبائهم مثلا ... بل هي بالأصالة؛ لِكونهم من العامَّة» (شرح مجلة الأحكام، للأتاسي ٥/ ١٩٣، المكتبة الحقانية).

١٣- «في ((شرح الآثار)): التَّعزير بالمال كان في ابتداء الإسلام، ثُم نُسِخ. والحاصل أنَّ المذهب عدمُ التَّعزير بِأَخْذِ المال» (البحر الرائق ٥/ ٤٤، دار الكتاب الإسلامي).

١٤- «لا يجوز لِأحدٍ من المسلمين أَخْذُ مالِ أحدٍ بغير سببٍ شرعِيٍّ» (رد المحتار ٤/ ٦١).

مولوي محمد نور "صديقي" مولوي عبدالستار "خادم"

وي محمد نور "صديقي" مولوي عبدالستار "خادم"